عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپرېدل: عمومي

۲ سپټمبر ۲۰۲۱

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**

**پنځه اویایمه ناسته**

د اجنډا ۳۹ ماده

**په افغانستان کې وضعیت**

**امنیت شورا**

**شپږ اویایم کال**

## په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۶۸/۱۱ ګڼه پرېکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت په اړه راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۱ کال د جون په ۱۵ نېټه خپور شوي راپور (A/75/926-S/2021/570) راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سیاسي، بشردوستانه، پراختیايي او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند بدلونونه

۳. د افغانستان وضعیت وروسته له هغې ډېر متغیر او بدلون وموند چې طالبانو د خپلو پوځي عملیاتو په پایله کې د ولایتونو مرکزونه او کابل تر خپلې ولکې لاندې راوستل. د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ نېټه د ولسمشر غني له هېواد څخه وتلو او کابل ته د طالبانو د ځواکونو ننوتلو سره پخوانۍ حکومت ړنګ شو. زرګونه افغانانو د خپل ژوند، حقونو او امنیت په اړه د اندېښنو له امله، په کابل کې د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر پر لور ورمات شول او هڅه یې کوله چې له هېواده ووځي. په ورته وخت کې، د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو اتباعو، ډیپلوماتانو او له خطر سره مخ افغانانو د ایستلو چارو د تنظیم په موخه خپل پوځي حضور زیات، او ټولې سوداګریزې الوتنې ځنډول شوې وې. له هغو سیمو څخه چې د طالبانو تر ولکې لاندې راغلې وې، داسې راپورونه خپاره شول چې پر شخصي او ټولنیزو آزادیو محدودیتونه لګول شوي، او د ښځو حقونه او خدمتونو ته د هغوی لاسرسی، په ځانګړي ډول زده‌کړو ته، محدود شوی دی. د تاوتریخوالي او بې‌ځایه کېدو د لوړې کچې ترڅنګ، د طبیعي پېښو، سختې وچکالۍ، سېلابونو او د کرونا ناروغۍ د دریمې څپې ګډو اغېزو د افغانستان نږدې نیمايي وګړي له سختو بشري اړتیاوو سره مخامخ کړل. ملګرو ملتونو د ټول هېواد په کچه نورو ځایونو ته د انتقال له لارې خپل حضور راکم کړ او یوه برخه کارکوونکي یې د لنډ مهال لپاره د قزاقستان پلازمېنې، الماتِه ته واستول څو له هغه ځایه د افغانستان په تړاو خپلو چارو ترسره کولو ته دوام ورکړي.

**الف. سیاسي بدلونونه**

۴. طالبانو په یو پوځي کمپاین کې خپل ځمکنۍ کنترول په پراخه کچه زیات کړ او په اګست میاشت کې یې د ۱۰ ورځو په موده کې د ۳۴ ولایتونو د مرکزونو له ډلې ۳۳ تر خپلې ولکې لاندې راوستل. د اګست په ۱۵ نېټه کابل ته د طالبانو د جنګیالیو له ننوتلو وروسته ولسمشر غني هېواد پرېښود، چې په ټولنیزو رسنیو کې وویل چې موخه یې د وینې توئېدو مخه نیول و. د طالبانو مرستیال مشر او د سیاسي کمیسیون مشر، ملا برادر د اګست په ۱۵ نېټه په یو ویډیويي پیغام کې د دې ډلې دا بریا د تمې خلاف وبلله. نوموړی د اګست په ۱۷ نېټه کندهار ته راورسېد. همدا راز متحده عرب اماراتو د اګست په ۱۸ نېټه یوه اعلامیه خپره کړه چې پکې د بشردوستانه اصولو له مخې یاد هېواد د ولسمشر غني د ورتګ هرکلی وکړ. په هماغه ورځ ولسمشر غني په یو ویډیويي پیغام کې وویل چې هېواد د بېرته راستنېدو نیت لري. د راپورونو له مخې د سولې د عالي شورا مشر، عبدالله او مخکني ولسمشر، حامد کرزي او د حزب اسلامي مشر، ګلبدین حکمتیار یوه موقتي شورا جوړه کړې چې موخه یې افغانستان ته د راتلونکو طالب مشرانو د تعامل له لارې د واک سوله‌ییز لېږد ښودل شوی دی.

۵. طالبانو د اګست په ۱۷نېټه په کابل کې د یوې خبري غونډې پر مهال د نورو مسایلو تر څنګ پر دې ټینګار وکړ چې، کابل ته د دوی ننوتلو موخه "د امنیتي تشې د رامنځته کېدو مخنیوی او د خلکو د ژوند او شتمنیو د امنیت د تأمین" و. په دغه خبري کنفرانس کې هغوی همدا راز وویل چې د سفارتونو او د ملګرو ملتونو د ادارو امنیت به ټینګوي، او ټینګار یې وکړ چې د غچ اخیستنې نیت نه لري. طالبانو څرګنده کړه چې "د اسلامي امارت مشر یو فرمان صادر کړی چې له مخې یې ټول هغه کسان بښل شوي چې د دوی د جهاد پر ضد ولاړ وو. " طالبانو ښځو ته "د شریعت په چوکاټ کې" د هغوی د حقونو د تضمین ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې "د ښځو پر وړاندې به هېڅ ډول تبعیض او تاوتریخوالی ونه شي. " هغوی له رسنیو وغوښتل چې د اسلامي ارزښتونو په پام کې نیولو سره خپل فعالیت وکړي او زیاته یې کړه چې، د نشه‌يي توکو د ناقانونه قاچاق د پای ته رسولو او د هېواد د اقتصادي زیربناوو د پیاوړتیا اراده لري، او دا یې هم وویل چې د یوه ټولګډونه اسلامي حکومت د جوړېدو لپاره خبرې اترې روانې دي. طالبانو له ملکي کارکوونکو غوښتي چې خپلو دندو ته بېرته ستانه شي. سربېره پر دې، هغوی د ولایتونو د والیانو، امنیه قوماندانانو او یو شمېر نورو ولایتي چارواکو، دولتي ادارو د رئیسانو او د محاکمو د مسؤلینو د ټاکنې اعلان هم وکړ.

۶. هغو ښځو چې د اګست په ۱۷ نېټه یې په کابل کې یې لاریون کړی و، له طالبانو وغوښتل چې د تعلیم، کار او سیاسي ګډون په برخو کې د هغوی حقونو ته درناوی وکړي. د اګست په ۱۸ نېټه د ننګرهار او کونړ په ګډون په ځینو ولایتونو کې خلکو د افغانستان د آزادۍ ورځ ونمانځله او هغه بیرغونه یې ښکته کړل چې تازه د طالبانو له خوا پورته شوي وو. د راپورونو له مخې په جلال اباد کې طالبانو د معترضینو د ځپلو او خپرولو په موخه د خلکو پر ګڼه‌ګونه ډزې وکړې، چې له امله یې لږ تر لږه یو کس ووژل شو. په راپورونو کې دا هم ویل شوي چې د طالبانو غړو دوه سیمه‌ییز خبریالان، چې د لاریون انځورونه او ویډیوګانې یې اخیستې، وهلي ډبولي دي. د یادونې وړ ده چې په کونړ او خوست ولایتونو کې هم د ورته پېښو راپورونه ورکړل شوي دي.

۷. د راپور ورکونې په موده کې د نړیوالو پوځي ځواکونو وتل لا هم دوام لري. د شمالي اتلانتیک شورا د جون په ۱۴ نېټه په افغانستان کې د ناټو د پوځي عملیاتو د ژر پای ته رسېدو پخلی وکړ. د امریکا متحده ایالاتو د جولای په ۲ نېټه د بګرام هوایي ډګر د افغانستان امنیتي ځواکونو ته وسپاره، چې په دې سره د نړیوالو ځواکونو د پوځیانو وتلو بهیر نږدې ۹۰ سلنه بشپړ شو. د ناټو غړو هېوادونو د اګست په ۱۵ نېټه د کابل له نیولو مخکې، د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د فعالیتونو د دوام په موخه د انتقالي مالي ملاتړ پر برابرولو هوکړه کړې وه، چې د دې مرکز د امنیت د ټینګولو مخکښ مسؤولیت ترکیې ته ورکړل شوی و.

۸.	یو شمېر سیاسي مخالفو ډلو د ناامنۍ په دې روان وضعیت کې د مقاومت ځواکونو او شوراګانو د جوړولو اعلان کړی څو ځایي دفاعي هڅې همغږې او منظمې کړي، چې تر ډېره یې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د غړو، قومي مشرانو او مذهبي مشرانو لخوا ملاتړ کېږي. د ولسمشر لومړي مرستیال، امرالله صالح د اګسټ په ۱۵ نېټه د کابل له سقوط وروسته په ټولنیزو رسنیو کې له افغانانو وغوښتل څو د طالبانو خلاف مقاومت سره یوځای شي او د اساسي قانون پر بنسټ یې ځان سرپرست ولسمشر اعلان کړ. نوموړي په بهر کې افغان سفارتونو او قونسلګریو څخه وغوښتل څو د هېواد ملي بیرغ په خپلو دفترونو کې رپېدلی وساتي او زیاته یې کړه چې په راتلونکي ټولګډونه حکومت کې د خلکو نظرونه او غوښتنې په پام کې ونیول شي. د راپورونو له مخې، په هرات ولایت کې د جمعیت اسلامي ګوند مخکښه څېره، اسمعیل خان له هزاره او د جمعیت له نورو سیاسي څېرو سره یو ځای، د پاکستان په بلنه په اسلام اباد کې راټول شوي او د وضعیت په اړه یې غونډې کړي دي.

۹.	حکومت له پورتنیو بدلونونو څخه مخکې په کابل کې د وزیرانو او لوړپوړو دولتي چارواکو د ګومارنو او بدلونونو بهیر چټک کړی و. دا اقدام تر یوه بریده د طالبانو د چټکو پرمختګونو پر وړاندې د غبرګون ښودلو او تر یوه بریده د سیاسي مخالفینو د رضایت ترلاسه کولو او د جمهوریت دننه د یووالي د پیاوړتیا لپاره ترسره شوی و. ولسمشر غني د جون په ۱۶ نېټه د کورنیو چارو نوی سرپرست وزیر وټاکه. درې ورځې وروسته، نوموړی د دفاع د سرپرست وزیر په توګه وګومارل شو، او ورسره یو نوی د کورنیو چارو سرپرست وزیر او د پوځ لوی درستیز هم وټاکل شول. د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د غونډو عمومي بحثونه تر ډېره د سولې او امنیت پر موضوعاتو متمرکز ول. مشرانو جرګې څو تقنیني سندونه تصویب کړل، چې په کې د اداري فساد اړوندو جرمونو د لا ښه کشف او افشا کولو په موخه د افشاء کوونکو د خوندیتوب قانون هم شامل و.

۱۰.	د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکره کوونکو پلاوو ترمنځ اړیکې، چې د روژې مبارکې میاشتې پر مهال درېدلې وې، د جون په ۸ نېټه په دوحه کې بېرته پیل شوې. د اجنډا او د یوې لارې نقشې په اړه خبرې اترې وشوې، خو د راپورونو له مخې کوم د پام وړ پرمختګ په کې نه لیدل کېږي. قطر د جون میاشتې په نیمایي کې، دواړو لورو ته د درېیمګري په توګه د منځګړیتوب یو وړاندیز وکړ، خو دواړه خواوې په دې هکله کومې هوکړې ته ونه رسېدې.

۱۱.	د ایران اسلامي جمهوریت د جولای په ۷ او ۸ نېټه د دواړو خواوو د مذاکره کوونکو پلاوو ترمنځ د یوې ناستې کوربتوب وکړ څو د مذاکراتو له لارې یوې سیاسي هوکړې ته ورسېږي او د جګړو د لا زیاتېدو مخه ونیول شي. دواړو لورو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې پکې یې د خبرو اترو له لارې د شخړې حل ته ژمنتیا وښوده او د نورو غونډو پر ترسره کولو یې هوکړه وکړه. د ډاکټر عبدالله په مشرۍ یو لوړپوړی پلاوی چې حکومتي چارواکي او د اپوزیسیون سیاستوال هم په کې شامل و، د جولای په ۱۷ او ۱۸ نېټه د سولې بهیر د چټکولو په موخه په دوحه کې له طالب پلاوي سره خبرې اترې وکړې. د افغانستان د اسلامي جمهوریت په پلاوي کې د ښځو محدود ګډون (له اوو غړو څخه یوازې یوه ښځه) د افغانستان د ګڼو ښځو له خوا د اندېښنې وړ وبلل شوه، په داسې حال کې چې د طالبانو په پلاوي کې هېڅ ښځه شامله نه وه. دواړو لورو په یوه ګډه اعلامیه کې هوکړه وکړه چې د جګړې "د پر وخت او عادلانه حل" لپاره خپلې هڅې چټکې کړي. د طالبانو د سیاسي کمېسیون استازو د جولای په ۸ او ۱۱ نېټه روسیې او ترکمنستان ته سفرونه وکړل، چې د راپورونو له مخې هلته یې خبرې اترې تر ډېره د سولې پر بهیر او په افغانستان کې پر امنیتي وضعیت متمرکزې وې. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د جولای ۱۲ نېټې په اعلامیه کې تمه وښوده چې، د افغانستان د سولې بهیر په ملاتړ د سیمه ییزو او نړیوالو همکارو شریکانو هڅې به له افغان حکومت سره په مستقیمه سلا مشوره ترسره کېږي. د طالبانو پلاوی د هغوی د مرستیال مشر او د سیاسي کمیسیون رئیس، ملا برادر په مشرۍ د جولای په ۲۸ نېټه چین ته لاړ او د یاد هېواد د بهرنیو چارو له وزیر، وانګ یي او همدا راز ځانګړي استازي یووي شیاویونګ او نورو چارواکو سره یې وکتل. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یې په غبرګون کې یوه اعلامیه خپره کړه او هیله یې څرګنده کړه چې د

چین حکومت به "د سیمه‌ییزې اجماع د پیاوړتیا، د تاوتریخوالي د درولو لپاره پر طالبانو د نړیوال فشار د زیاتولو، د اوربند د ټینګښت، د سولې د تأمین او په افغانستان کې د بهرنیو ترهګرو د حضور پای ته رسولو په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي."

۱۲. قطر د اګست له ۱۰ څخه تر ۱۲ نېټې پورې د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو د استازو، او همدا راز د چین، جرمني، هند، ناروې، پاکستان، قطر، تاجکستان، ترکیې، ترکمنستان، انګلستان او شمالي آیرلنډ، امریکا متحده ایالاتو او ازبکستان د ځانګړو استازو او اروپایي ټولنې او ملګرو ملتونو ترمنځ د یو لړ غونډو کوربتوب کړی دی. په دغو خبرو اترو کې د افغانانو ترمنځ د سولې د مذاکراتو وضعیت او د سولې بهیر د بریالیتوب لپاره د نړیوالې ټولنې احتمالي مرستې او ونډې تر بحث لاندې ونیول شوې او د غونډو د مشر لخوا په پای کې یوه اعلامیه هم خپره شوه. په دغه اعلامیه کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ یو ځل بیا ټینګار وشو چې، هغه حکومت به په رسمیت ونه پېژندل شي چې د پوځي ځواک له لارې پر خلکو تحمیل شوی وي. همدارنګه، په دې اعلامیه کې د سولې د بهیر د بېړنې چټکتیا او د تاوتریخوالي د پای ته رسولو غوښتنه شوې او د سیاسي جوړجاړي په لور تللو لپاره یې د لاندې اصولو په پام کې نیولو یادونه هم کړې ده: (الف) ټولګډونه حکومتولي؛ (ب) بشري حقونو ته درناوی، په ځانګړې ډول د ښځو او لږکیو حقونو ته؛ (ج) د داسې میکانیزم رامنځته کول چې د خلکو استازیتوب کوونکی حکومت رامنځته کړي؛ (د) دا ژمنتیا چې هېڅ فرد یا ډله به د افغانستان له خاورې څخه د نورو هېوادونو پر ضد استفاده نه کوي او د امنیت پر وړاندې به یې ګواښ نه جوړوي؛ او (هـ) د نړیوالو قوانینو درناوی، په ځانګړې ډول د نړیوالو بشردوستانه قوانینو رعایت.

۱۳. په ورته وخت کې، د مدني ټولنې بنسټونو، د ښځو او ځوانانو ډلو، دیني مشرانو او رسنیو د اوربند او د خبرو اترو له لارې د سیاسي جوړجاړي غوښتنې ته دوام ورکړ. دیني عالمانو د شخړې له ښکېلو لورو وغوښتل چې د سولې هوکړې ته د رسېدو لپاره نرمښت وښيي، او همدارنګه یې د ښځو او ماشومانو د لا زیات خوندیتوب پر اړتیا ټینګار وکړ. د ښځو مشرانې او فعالانې لا هم پر دې ټینګار کوي چې هغوی باید په هغو لوړې کچې بهیرونو او غونډو کې اغېزمن او مانادار ګډون ولري چې د شخړې د حل لپاره هڅې کوي. همدارنګه، هغوی غوښتنه وکړه چې د بشري مرستو او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د پرېکړو بهیر کې هم ګډون ولري، څو د خوندیتوب اړوند خطرونه راکم شي.

۱۴. د سعودي عربستان او د نړۍ د مسلمانانو اتحاد (Muslim World League) لخوا د جون پر ۱۰ نېټه په مکه مکرمه کې د سولې یو کنفرانس جوړ شو، چې په ترڅ کې یې دیني عالمانو په یوه ګډه اعلامیه کې اعلان وکړ چې په افغانستان کې د جهاد لپاره هیڅ شرعي دلیل او توجیه نشته، او همدارنګه یې د اوربند د ټینګښت او د یوې عادلانه او تلپاتې سولې پر اړتیا ټینګار وکړ. د افغانستان د دوستانو ډلې او په افغانستان کې د ښځو د دوستانو ډلې غړو د جون پر ۱۶ نېټه په نیویارک کې غونډه وکړه. د دې غونډې ګډونوالو د سولې په بهیر کې د افغان ښځو د ګډون او د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنو د ساتلو لپاره خپل پیاوړی ملاتړ څرګند کړ. همدارنګه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د جون پر ۱۶ نېټه د ملګرو ملتونو په همکارۍ د اوربند په اړه یو جنسیت‌محوره لنډیز خپور کړ، چې په کې د داسې هر اړخیز اوربند پر بېړنۍ اړتیا ټینګار شوی و چې د ټولو افغانانو او ټولنو حقونه خوندي کړي او اړتیاوو ته یې ځواب ووایي. دغه کمېسیون د ملګرو ملتونو په همکارۍ د سولې د خبرو اترو لپاره د بشري حقونو د بېلابېلو موضوعاتو په اړه خپل دریځ هم څرګند کړ، چې د ښځو حقونه او د بیان ازادي هم په کې شامله وه. د مدني ټولنې د ګډې کاري ډلې مشرانو د جون پر ۲۳ نېټه چې د ښځو او ځوانانو د سازمانونو په ګډون له ۱۵۰۰ څخه د زیاتو مدني ټولنو شبکو استازیتوب کوي، پرېکړه وکړه چې له مذاکره کوونکو لورو سره د تعامل لپاره نوې ستراتیژي جوړه کړي او د ښځو د حقونو په ګډون د اتباعو د حقونو د ساتنې غوښتنه وکړي. د افغانستان د علماوو ملي شورا غړي د جولای پر ۳ نېټه په کابل کې راټول شول او یوه اعلامیه یې خپره کړه چې پکې یې روانه جګړه نامشروع وبلله او له ښکېلو لورو یې

وغوښتل چې تاوتریخوالی پای ته ورسوي او خپل اختلافات د خبرو اترو له لارې حل کړي. د افغان ښځو شبکې د جولای پر ۱۳ نېټه یوه اعلامیه خپره کړه او د سولې د بهیر د پرمختګ لپاره یې سمدستي اوربند یوازینۍ اغېزمنه لار وبلله.

۱۵. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د راپور ورکونې مودې په ترڅ کې، د شخړو د حل په برخه کې د سولې د لسو محلي پروګرامونو له لارې له سیمه‌ییزو چارواکو او ټولنو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړ. یوناما همدا راز د هرات او بدخشان ولایتونو په مرکزونو کې د دوو سیمه‌ییزو سولې پروګرامونو پلي کول پیل کړل چې د دغو پروګرامونو په چوکاټ کې له ځوانانو او د پوهنتونونو له استادانو سره د غونډو ملاتړ وشو څو د زغم او ټولنیز انسجام د پیاوړتیا زمینه برابره شي.

### ب. امنیت

۱۶. د راپور ورکونې مودې پر مهال په افغانستان کې ناامني په پرله‌پسې ډول زیاته شوه، ځکه چې طالبانو د پاتې نړیوالو پوځي ځواکونو د وتلو له بهیر سره هممهاله پراخ پوځي عملیات پیل کړل. طالبانو د اګسټ تر ۱۸ نېټې پورې له پنجشیر ولایت پرته د افغانستان پر ټولې خاورې خپله ولکه ټینګه کړې وه.

۱۷. د طالبانو پوځي بریدونه د دې ډلې له هغې اعلامیې وروسته پیل شول چې د اپرېل په ۱۵ یې خپره کړې وه او پکې یې ویلي وو چې، که بهرني ځواکونه د مې میاشتې له لومړۍ نېټې وروسته هم په افغانستان کې پاتې شي، نو دوی به هر ډول متقابل اقدام ترسره کړي. په پیل کې د دغو عملیاتو موخه د ولسوالیو په کچه د ځمکني کنټرول ولکې وو. طالبانو لومړی خپل تمرکز د هېواد پر شمالي او شمال‌ختیځو سیمو وکړ، او وروسته یې خپل عملیات نورو سیمو ته هم وغځول. د ولسوالیو ګڼ شمېر اداري مرکزونه پرته له مقاومته د دوی لاس ته ولوېدل؛ هغه څه چې حکومت یې تاکتیکي شاتګونه بللي دي. دې وضعیت طالبانو ته د پراخ تګ‌راتګ دهلېزونه برابر کړل او د مهمو ترانسپورتي لارو او د ښارونو شاوخوا سیمو کې یې د دوی حضور پیاوړی او منسجم کړ. همدارنګه دوی د سرحدي تګ‌راتګ پر زیات شمېر لارو او بندرونو خپله ولکه تینګه کړه، چې له دې سره یې د دولت د عوایدو د یوې مهمې برخې سرچینې هم تر خپل واک لاندې راوستې.

۱۸. طالبانو د جون میاشتې په وروستیو او د جولای په ټوله موده کې د ولایتي مرکزونو پر شاوخوا د پرله‌پسې تعقیبي بریدونو او دوامداره مخکې تګ وروسته، د اګسټ پر ۶ نېټه خپل لومړنی ولایتي مرکز، زرنج ونیو او په لسو ورځو کې د هېواد له ۳۴ ولایتي مرکزونو څخه یې ۳۳ ونیول، چې د اګسټ پر ۱۵ نېټه یې د هېواد پلازمېنه، کابل هم لاس ته ولوېد. د ښارونو له نیولو سره په منظم ډول د ولایتي زندانونو بندیان هم خوشې کېدل. په دغو کسانو کې د کابل د پلچرخي زندان له ۱۱ زرو بندیانو څخه شاوخوا ۵ زره کسان شامل وو. همدارنګه، د پروان ولایت په پخوانۍ بګرام پوځي اډه کې د بګرام توقیف‌خونې بندیان هم خوشې شول. د راپورونو له مخې، له دې وړاندې په  تېرو دوو اوونیو کې د نورو ولایتونو له زندانونو څخه شاوخوا ۸۵۰ امنیتي بندیان دغې توقیف‌خونې ته لېږدول شوي وو.

۱۹. د سوداګریزو الوتنو له درېدلو سره هممهاله، د اګست پر ۱۵نېټه د امریکا متحده ایالاتو پوځ د کابل د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر کنټرول په خپل لاس کې واخیست. د بهرنیو اتباعو، ډیپلوماتانو او له ګواښ سره مخ افغانانو د ایستلو د چارو د مدیریت لپاره ۵۰۰۰ سرتېري وګومارل شول. د اګست پر ۱۶ نېټه، ۱۰۰۰ نور سرتېري هم هوایي ډګر ته ولېږل شول. په هوایي ډګر کې امنیتي وضعیت خورا بې‌ثباته او کړکېچن و، ځکه چې زرګونه ملکي وګړي د تخلیې په هیله هلته راټول شوي وو. د هوایي ډګر په دروازو کې د ګڼې ګوڼې د کنټرول په موخه، طالبانو او نړیوالو پوځي ځواکونو هوایي ډزې وکړې او اوښکې بهوونکې

ګاز يې وکارول، چې په ځينو پېښو کې يې ملکي وګړو ته زيان واړوه. لومړنيو راپورونو وښودله چې د اګسټ پر ۱۶ لږ تر لږه ۴ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۳ نور ټپيان شوي وو.

۲۰. د طالبانو جنګياليو د کابل ښار له نيولو وروسته د پلازمېنې په بېلابېلو برخو کې امنيتي پوستې جوړې کړې او خپلې ګزمې يې زياتې کړې، خو جنګياليو يې رسمي يونيفورم نه درلود. راپورونو همدا راز څرګندونه کړه چې ځينې کسان وروسته له هغه په ډزو ويشتل شوي وو، چې له اجازې پرته يې له امنيتي پوستو څخه د تېرېدو هڅه کړې وه. که څه هم د طالبانو په اعلاميو کې ټينګار شوی و چې د چا کور ته دې له اجازې پرته نه ننوځي او د خلکو "ژوند، مال او عزت" به خوندي وي، خو ګڼ راپورونه خپاره شول چې طالبان د دولتي کارکوونکو، وسلو او شتمنيو د موندلو په موخه کور په کور پلټنې ترسره کوي او په ځينو مواردو کې يې د خلکو شتمنۍ هم ضبط کړې دي. په ځينو راپورونو کې دا هم ويل شوي چې طالبانو د هغو کسانو د موندلو هڅه کوله چې ګواکې "له بهرنيانو سره يې کار کړی و" او په ځينو مواردو کې يې هغوی وهلي او ټکولي هم دي.

۲۱. حکومت، د طالبانو لخوا د کابل تر نيولو مخکې، د طالبانو د پرمختګونو د مخنيوي لپاره يو لړ تدابير ونيول، خو بريالي نه شول. په دغو تدابيرو کې په محلي کچه د امنيتي مسؤليتونو بيا تنظيم او د قول اردو قوماندانانو ته د واکونو سپارل، د تازه منحل شوو افغان محلي پوليسو د بېرته فعالولو اعلان، او د ځانګړو عملياتو او ځانګړو هوايي عملياتو ځواکونو ادغام شامل وو. همدارنګه، د پرسونل په برخه کې پراخ بدلونونه راوستل شول؛ د مې له لومړۍ نېټې راهيسې په ۲۳ ولايتونو کې د امنيه قوماندانان تبديل شول، او ورسره د ملي امنيت رياست يو شمېر ولايتي رئيسان او د افغان ملي اردو ولايتي قوماندانان هم بدل شول. کورنيو چارو وزارت د جولای پر ۲۴ نېټه اعلان وکړ چې له کابل، ننګرهار او پنجشير پرته په ۳۱ ولايتونو کې به د شپې له ۱۰ بجو څخه د سهار تر ۴ بجو پورې ګرځبنديز پلی شي. همدارنګه، ولسمشر محمد اشرف غني د اګست پر ۲ نېټه پارلمان ته خبر ورکړ چې د شپږ مياشتنۍ امنيتي طرحې چارې بشپړې شوې دي؛ دغه طرحه د ستراتيژيکو نقطو او ښاري سيمو پر دفاع متمرکزه وه او ترڅنګ يې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د ځايي جذب شوو ځواکونو د بسيج هڅې هم روانې وې.

۲۲. ملګرو ملتونو د مې له ۱۶ څخه د جولای تر ۳۱ پورې، ۶۳۰۲ امنيتي پېښې ثبت کړې، چې دا د ۲۰۲۰ کال د همدې مودې په پرتله ۲۵،۶ سلنه زياتوالی ښيي، چې هغه مهال ۵۰۱۶ پېښې ثبت شوې وې. وسله‌والې نښتې ۳۷،۸ سلنه زياتې شوې او له ۲۹۳۱ پېښو څخه ۴۰۳۹ ته لوړې شوي؛ هوايي بريدونه ۲۳۶ سلنه زيات شوي او له ۱۳۶ څخه ۴۵۷ ته زيات شوي؛ او هدفي وژنې ۶ سلنه زياتې شوې او له ۲۳۵ څخه ۲۵۰ ته رسېدلې دي. د دې برعکس، د ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو چاودنې ۱۵ سلنه کمې شوې او له ۶۳۵ څخه ۵۳۸ پېښو ته راټيټې شوې دي. د هېواد سويلي، ختيځ او شمالي سيمې د ټولو ثبت شويو پېښو ۶۰،۴ سلنه جوړوي، چې پکې د هلمند، کندهار او ننګرهار ولايتونه په پرله‌پسې ډول د تر ټولو زياتو اغېزمنو سيمو په توګه ياد شوي دي. د اګسټ له پيل راهيسې، کله چې طالبانو په تدريجي ډول پر سيمو خپله ولکه ټينګوله، د جګړې اړوند امنيتي پېښې لکه هوايي بريدونه، وسله‌والې نښتې او د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو اړوند پېښې د پام وړ کمې شوې دي.

۲۳. د طالبانو له لوري د لويو ښارونو تر نيولو وړاندې، د دولت ضد عناصرو له خوا په ټول هېواد کې لوی بريدونه ترسره شول. د مې د ۱۶ او د جولای د ۳۱ ترمنځ موده کې ۱۸ ځانمرګي بريدونه ثبت شوي، په داسې حال کې چې په مخکنۍ دوره کې يوازې ۱۱ دغه ډول بريدونه ترسره شوي دي. په دغو بريدونو کې ۱۶ د ځانمرګو موټر بمونو بريدونه شامل وو چې تر ډېره يې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو پوستې په نښه کړې دي. سربېره پر دې، د مقناطيسي ماينونو په وسيله ۶۸ بريدونه شوي

چې ۱۴ یې یوازې په کابل کې ترسره شوي دي. هدفي او عموماً بېمسؤلیته وژنې هم په ټول هېواد کې ترسره شوي چې قربانیان یې، د نورو تر څنګ، د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت د پالیسۍ او پلان جوړونې رئیس و، چې د می په ۳۰ په کابل کې ووژل شو؛ همدا راز د علماوو شورا مرستیال، چې د جون په ۳ په هرات کې ووژل شو؛ د لوګر د استیناف محکمې ولایتي څارنوال او یو دولت پلوه دیني عالم، چې په ترتیب سره د جون په ۷ او ۱۲ ووژل شول؛ او د حکومت د رسنیو او معلوماتو مرکز مشر، چې د اګست په ۶ نېټه ووژل شو. طالبانو د اګست په ۴ نېټه په کابل کې د سرپرست دفاع وزیر پر استوګنځي د شوي برید پړه پر غاړه واخیسته.

۲۴. داعش خراسان څانګې له خوا ادعا شوي یا دې ډلې ته منسوب بریدونه زیات شوي دي. ملګرو ملتونو د می د ۱۶ او د اګسټ د ۱۸ نېټو ترمنځ، ۸۸ بریدونه ثبت کړي، په داسې حال کې چې د ۲۰۲۰ کال په ورته موده کې دا شمېر ۱۵ ښودل شوې ده. دغې ډلې په ښاري سیمو کې ملکي وګړي د نامتوازنو تاکتیکونو په کارولو سره په نښه کړي. داعش–خراسان د جولای په ۲۰ نېټه د لوی اختر د مراسمو پر مهال په کابل کې د ولسمشرۍ ماڼۍ پر لور د اټکل له مخې د اوو توغندیو د توغولو مسؤولیت هم پر غاړه واخیست. همدارنګه، دغې ډلې د چاودېدونکو توکو په وسیله د مذهبي لږکیو پر ضد د یو لړ بریدونو ادعا وکړه، چې په کې د می په ۱۳ نېټه د کندز ښار د هزاره‌ګانو یوه غونډه، د می په ۱۴ نېټه په کابل کې یوه صوفي جومات، او د جون د ۱ او ۱۲ نېټې ترمنځ په پروان ولایت او کابل کې هغه مسافر وړونکي موټر شامل وو چې یا یې هزاره شیعه سپرلۍ لېږدولې او یا د هزاره شیعه مېشتو سیمو له مسیر تېرېدل. دغې ډلې همدارنګه د جون په ۸ نېټه په بغلان ولایت کې د HALO Trust د ماین پاکۍ پر کارکوونکو د برید مسؤولیت هم ومانه، چې په پایله کې یې ۱۰ ماین پاکان ووژل شول. پر اقتصادي زیربناوو او شتمنیو هم د دغې ډلې لخوا د ځینو بریدونو ادعا هم شوې ده. خو ټولې ادعاوې نه وې ځکه تائید شوې نه وې، چې لا یې هم په اړه اختلاف موجود و چې داعش–خراسان تر ډېره کچه هغه بریدونه هم د ځان په نوم ثبت کړي چې نورو ډلو ترسره کړي وو یا له دغې ډلې سره په همغږۍ کې ترسره شوي وو. دغې ډلې د جون په ۱۷ نېټه یوه سرمقاله هم خپره کړه چې پکې یې د بریدونو د زیاتولو پلان اعلان کړ، او په وروستیو اوونیو کې یې په زیاتېدونکې توګه هڅه کوله چې په افغانستان کې د طالبانو لخوا د دوی د نفوذ د پراخېدو او د کنټرول د ټینګولو په بهیر کې طالبان وننګوي.

۲۵. ملګرو ملتونو د م د ۱۶ او د اګسټ د ۱۸ ترمنځ د خپلو کارکوونکو پر وړاندې ۵۴ پېښې ثبت کړې، چې په هغو کې د ګواښ او ځورونې ۳۲ موارد او د جرمونو اړوند ۱۵ پېښې شاملې وې. د جولای په ۳۰ او ۳۱ او همدارنګه د اګسټ په ۲، په هرات کې د ملګرو ملتونو پر یوه مرکز د سپکو وسلو او لاسي بمونو بریدونه وشول، چې له امله یې د هغو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په لیکو کې څو تنو ته مرګ ژوبله واوښته چې د یاد مرکز ساتنه یې کوله. دغه بریدونه په داسې حال کې ترسره شول چې طالبانو مخکې له مخکې د امنیت ډاډ ورکړی و. د اګسټ په ۲ نېټه هغه کاروان چې د ملګرو ملتونو کارکوونکې یې د هرات هوایي ډګر ته لېږدول، د سپکو وسلو تر برید لاندې راغی، خو مرګ ژوبله یې رامنځته نه کړه. د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې، ملګرو ملتونو ۱۹ داسې پېښې ثبت کړې چې پکې طالبانو او/یا مجرمینو د ملګرو ملتونو مرکزونو او دفترونو ته ننوتلې یا یې د ننوتلو هڅه کړې وه، او په ځینو مواردو کې یې د ملګرو ملتونو شتمنیو ته زیان رسولی او یا یې غلا کړې وې. همدارنګه، د ملګرو ملتونو د تګ راتګ د آزادۍ د محدودولو ۴ پېښې هم ثبت شوې دي.

### ج. سیمه ییزه همکاري

۲۶. د افغانستان، چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د جون په ۳ نېټه یوه انلاین یا مجازي غونډه ترسره کړه چې پکې د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې، په افغانستان او سیمه کې د سولې او امنیت تأمین، او د درېاړخیزې همکارۍ پراختیا په هکله

بحث او خبرې اترې وشوې. د افغانستان د بهرنيو چارو وزير محمد حنيف اتمر د جون په ۵ او ۶ نېټه په هرات کې د خپل ترکمنستاني سيال رشيد مرادوف کوربتوب وکړ. د دواړو وزيرانو ترمنځ په دې غونډه کې د دواړو هېوادونو د دوه‌اړخيزو اړيکو، د سولې بهير، دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګرۍ او راکړې ورکړې، او د بنسټيزو زيربنايي پروژو په اړه خبرې وشوې.

۲۷. ښاغلي محمد حنيف اتمر د جون په ۱۴ او ۱۵ نېټه د جرمني ځانګړي استازي، مارکُس پوتزل او د ازبکستان ځانګړي استازي عصمت الله ارګاشيف سره په خپل دفتر کې وليدل. په دغو ليدنو کې د نورو موضوعاتو تر څنګ، د سولې بهير په اړه هم خبرې وشوې. د ايران اسلامي جمهوريت ځانګړي استازي محمد ابراهيم طاهريان د جون په ۲۳ او ۲۴ نېټو کابل او اسلام‌آباد ته سفر وکړ، چې هلته يې له خپلو سيالانو سره په افغانستان کې د سولې او امنيت لپاره د سيمه‌ييزو هڅو په اړه خبرې اترې وکړې. د قطر ځانګړي استازي مطلق بن ماجد القحطاني هم د جولای په ۶ او ۹ نېټو کابل او اسلام‌آباد ته سفرونه وکړل، ترڅو له لوړپوړو افغان او پاکستاني چارواکو سره په دوحه کې د بين الافغاني خبرو اترو د وروستيو پرمختګونو په اړه سلا مشورې وکړي.

۲۸. د افغانستان د ملي امنيت سلاکار، حمدالله محب د جون په ۱۸ نېټه د قزاقستان د دفاع له وزير نورلان يرمکبايف سره وکتل. دواړو لورو د پوځي همکاريو په اړه يو دوه‌اړخيز تړون هم لاسليک کړ.

۲۹. ښاغلي محمد حنيف اتمر د جون په ۲۰ نېټه د انتاليا په ډيپلوماتيک فورم کې ګډون وکړ. نوموړي هلته د ايران او ترکيې د بهرنيو چارو له وزيرانو، محمد جواد ظريف او مولود چاووش اوغلو سره وکتل. په دغو ليدنو کې د درې‌اړخيزو اقتصادي همکاريو د پراختيا، د ايران د ترانزيټي لارو د کارونې، او د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې د ګډو هڅو په اړه خبرې وشوې. وزيرانو د بين الافغاني خبرو اترو، دايمي اوربند، او د يوه ټولګډونه سياسي جوړجاړي څخه يو ځل بيا خپل ملاتړ څرګند کړ.

۳۰. د مرکزي آسيا او افغانستان ترمنځ د سيمه‌ييز تعامل او همکارۍ د پياوړتيا په موخه د جولای په ۷ نېټه د مرکزي آسيا لپاره د ملګرو ملتونو د مخنيوي ډيپلوماسۍ سيمه‌ييز مرکز د"د افغانستان د سولې بهير او د نړيوالو ځواکونو د وتلو اغېزې: سيمه‌ييز امنيت او اقتصادي پراختيا" تر سرليک لاندې يوه غونډه جوړه کړه. دغه غونډه د افغانستان او ترکمنستان د بهرنيو چارو وزارتونو په همکارۍ ترسره شوه او د مرکزي آسيا د پنځو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) استازو پکې ګډون کړی و. ګډونوالو په افغانستان کې د امنيتي، سياسي او اقتصادي پرمختګونو او همدارنګه د مرکزي آسيا او افغانستان ترمنځ د لا زياتې همکارۍ د فرصتونو په اړه خپل نظرونه او ليدلوري شريک کړل.

۳۱. ښاغلي محمد حنيف اتمر د جولای په ۱۳ نېټه په دوشنبه کې د شانګهای همکارۍ سازمان د افغانستان د تماس ډلې په څلورمه غونډه کې ګډون وکړ. د غړو هېوادونو استازو په يوې ګډې اعلاميه کې د افغانستان په شمالي ولايتونو کې د زياتېدونکې ناامنۍ په اړه اندېښنه څرګنده کړه او د افغانستان د ثبات او پراختيا لپاره د ملګرو ملتونو د همغږي کوونکې رول تر چتر لاندې يې د لا زياتو همکاريو لپاره چمتووالی وښود. ښاغلي اتمر په جلا جلا ناستو کې د چين، هند، پاکستان او ازبکستان د بهرنيو چارو له وزيرانو سره هم خبرې اترې وکړې، څو د مذاکراتو له لارې د سياسي جوړجاړي او د تاوتريخوالي د پای ته رسېدو لپاره د هغوی ملاتړ ترلاسه کړي.

۳۲. ولسمشر غني د جولای په ۱۵ او ۱۶ نېټه په تاشکند کې د"مرکزي او جنوبي آسيا ۲۰۲۱: سيمه‌ييز اتصال، ننګونې او فرصتونه" تر سرليک لاندې د لوړې کچې نړيوال کنفرانس کې ګډون وکړ. نوموړي د دې کنفرانس په څنډه کې د ازبکستان له ولسمشر، شوکت ميرضيايف، د پاکستان لومړي وزير، عمران خان، د روسيې د بهرنيو چارو وزير، سرګې لاوروف، د هند بهرنيو

چارو وزیر، سوبرهمنیام جیشنکر او د ترکیې بهرنیو چارو وزیر، مولود چاووش اوغلو او همدارنګه د بریتانیا او متحده ایالاتو له چارواکو سره لیدنې وکړې. د دغو خبرو اترو پر مهال، د افغانستان محوره سیمه‌ییزو همکاریو د پیاوړتیا فرصتونه وڅېړل شول او ګډونوالو د افغانستان د سولې له بهیر څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. ولسمشر غني همدا راز په جلا توګه چین له ولسمشر، شي جین پینګ سره ټیلیفوني خبرې وکړې. د چین ولسمشر په افغانستان کې د سولې او پخلاینې له بهیر څخه خپل ملاتړ څرګند کړ او د کرونا وبا د اغېزو د مهارولو لپاره یې د مرستې ژمنه وکړه. همدارنګه، د دې کنفرانس په څنډه کې د افغانستان، پاکستان، متحده ایالاتو او ازبکستان استازو هوکړه وکړه چې د سیمه‌ییز اتصال د پیاوړتیا لپاره به د ډیپلوماتیکې همغږۍ یو څلوراړخیزه چوکاټ جوړوي.

۳۳. د سیمې هېوادونو، په ځانګړې توګه د افغانستان په شمال کې د طالبانو د پرمختګونو په اړه د خپلو زیاتېدونکو اندېښنو د له منځه وړلو په موخه یو لړ اقدامات ترسره کړل. تاجکستان د جولای په ۲۱ او ۲۲ نېټه پوځي تمرینات ترسره کړل او اعلان یې وکړ چې د افغانستان پولې ته څېرمه به ۲۰ زره سرتېري ځای پر ځای کړي. له دې وروسته، د جولای په ۲۴مه، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر شیخ رشید احمد اعلان وکړ چې د افغانستان پر پوله به د نیمه پوځي ځواکونو پر ځای منظم پوځي ځواکونه ځای پر ځای شي. همدارنګه، د جولای په ۲۸ نېټه د روسیې د دفاع وزیر سرګي شویګو وویل چې روسیه اراده لري په تاجکستان کې خپله پوځي اډه لا پیاوړې کړي. سربېره پر دې، روسیې، تاجکستان او ازبکستان اعلان وکړ چې د اګست له ۵ څخه تر ۱۰ پورې به ګډ پوځي تمرینات ترسره کړي.

۳۴. د افغانستان او سیمه‌ییزو مسایلو په اړه د سرمنشي ځانګړي استازي، ژان آرنو د جون له ۳ څخه تر ۲۴ پورې افغانستان، جرمني، ایران، پاکستان، ترکیې او ازبکستان ته؛ د جولای له ۱۰ څخه تر ۱۹ پورې قطر ته، د اګست ۷ او ۸ نېټه بیا د ایران اسلامي جمهوریت ته، او د اګست له ۸ څخه تر ۱۳ پورې یو ځل بیا قطر ته د سولې د مذاکراتو د وضعیت او د شخړې د سیاسي حل په ملاتړ کې د سیمې د احتمالي رول په اړه د سلا مشورو لپاره سفرونه ترسره کړل.

## دریم: بشري حقونه

۳۵. یوناما د ملکیانو د خوندیتوب په اړه د تازه معلوماتو شپږ میاشتنی راپور د جولای په ۲۶ نېټه خپور کړ. یوناما د ۲۰۲۱ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه تر جون ۳۰ نېټې پورې ۵۱۸۳ د ملکي تلفاتو پېښې ثبت کړې، چې په کې ۱۶۵۹ تنه وژل شوي (د ۲۱۹ ښځو، ۲۹۳ هلکانو او ۱۷۱ نجونو په ګډون) او ۳۵۲۴ تنه (د ۵۰۸ ښځو، ۷۴۸ هلکانو او ۴۵۱ نجونو په ګډون) ټپیان شوي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۰ کال د همدې مودې په پرتله ۴۷ سلنه زیاتوالی ښیي. یوناما د ښځو او نجونو د وژل کېدو او ټپي کېدو تر ټولو لوړې ثبت شوې شمېرې او همدارنګه د ماشومانو د تلفاتو تر ټولو لوړه عمومي کچه ثبت کړې ده. دغه راز، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر ځانمرګو چاودېدونکو توکو د کارونې له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه ثبت شوې کچه هم مستنده کړه. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ نیمايي په پرتله، د ځمکنیو نښتو او هوايي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې هم زیاتوالی راغلی. له بلې خوا، د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو بریدونو او د نړیوالو پوځي ځواکونو د هوايي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالی راغلی دی. د ځانګړې اندېښنې وړ خبره دا ده چې یوناما د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر په میاشت کې، د تېر کال د ورته مودې په پرتله، د افغانستان د سولې د مذاکراتو له پیل راهیسې د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۲۵ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی. یوناما د مې او جون میاشتو ترمنځ موده کې ۲۳۹۲ ملکي مرګ ژوبله ثبت کړې، چې د ۲۰۲۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو د ټولو ملکي تلفاتو نږدې نیمايي جوړوي. دا همدارنګه د همدې دوو میاشتو په موده کې د یوناما له خوا تر ټولو لوړه ثبت شوې شمېره وه.

۳۶.	د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو نږدې دوه پر دریېمه برخه (۶۴ سلنه) د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځته شوې ده،چې په کې تر ټولو لویه برخه د طالبانو (۳۹ سلنه)، د داعش–خراسان څانګې (۹ سلنه) او نورو نامعلومو دولت ضد مخالفینو (۱۶ سلنه) پورې تړاو لري. د ټولو ملکي تلفاتو شاوخوا ۲۵ سلنه د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځته شوې ده، چې له دې ډلې ۲۳ سلنه د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا او پاتې ۲ سلنه د دولت پلوه وسلهوالو ډلو یا نورو نامعلومو دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځته شوي وو. په ټولیز ډول، د ملکي تلفاتو ۳۸ سلنه د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر ځانمرګو چاودېدونکو توکو د کارونې له امله رامنځته شوي وو. همدارنګه، ځمکنۍ نښتې، هدفي وژنې او هوایي بریدونه په ترتیب سره د ملکي تلفاتو ۳۳ سلنه، ۱۴ سلنه او ۸ سلنه جوړوي. د دغو شمېرو له مخې، د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ نیمايي کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوی لامل د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر ځانمرګو ماینونو او چاودېدونکو توکو کارول، او ورپسې ځمکنۍ جګړې او هدفي وژنې د ملکي مرګ ژوبلې مهم عوامل بلل شوي دي.

۳۷.	د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په وسلهوالو شخړو کې د ماشومانو پر وړاندې د جدي سرغړونو د څارنې او راپور ورکولو د هېوادنۍ کاري ډلې له خوا د ۱۱۱۲ ماشومانو (۶۷۳ هلکان، ۴۲۰ نجونې او ۱۹ د نامعلوم جنسیت لرونکي ماشومان) پر وړاندې د ۱۱۷۹ جدي سرغړونو پېښې تائید شوې. په دغو پېښو کې ۱۰۸۵ ماشومان وژل شوي یا ټپیان شوي دي، چې ۳۰۹ ماشومان وژل شوي او ۷۷۶ نور ټپیان شوي دي (۶۴۷ هلکان، ۴۱۹ نجونې او ۱۹ د نامعلوم جنسیت لرونکي ماشومان). د اندېښنې وړ خبره دا وه چې د ماشومانو د وژل کېدو او ټپي کېدو شمېر د تېرې ربعې په پرتله نږدې دوه برابره زیات شوی دی. د ۲۰۲۱ کال د لومړیو دوو ربعو پر مهال تائید شوي د ماشومانو ټول تلفات، په افغانستان کې د یادې کاري ډلې د ثبت شویو معلوماتو له مخې، د همدې مودې لپاره تر ټولو لوړه ثبت شوې شمېره وه. د ماشومانو د تلفاتو له ډلې څخه، ۵۹۴ پېښې د دولت ضد عناصرو او ۳۴۷ پېښې د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځته شوې دي. د دې ربعې په اوږدو کې غیر ځانمرګي چاودېدونکي توکي چې ۴۳۰ پېښې یا ۴۰ سلنه، ورپسې ځمکنۍ نښتې د ۳۸۵ پېښو یا ۳۵ سلنې، او هوایي بریدونه ۱۴۳ پېښو یا ۱۳ سلنې په درلودلو سره، د ماشومانو د مرګژوبلې زیاتوالی تر ټولو ستر لاملونه ښودل شوي دي.

۳۸.	دغې هېوادنۍ کاري ډلې د ۱۲ او ۱۷ کلونو ترمنځ د ۲۶ ماشومانو (ټول هلکان) د جلب او استخدام پېښې تائید کړې. له دې ډلې څخه ۱۶ ماشومان د طالبانو، ۶ د افغان ملي پولیسو او ۴ د دولت پلوه ملیشو له خوا استخدام شوي دي. دغې کاري ډلې همدا راز د افغان ملي پولیسو له خوا د ۶ هلکانو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي پېښې هم تائید کړې. همدا شان د طالبانو له خوا د دوو ماشومانو (یو هلک او یوې نجلۍ) د تښتولو پېښې او پر ښوونځیو او ښوونیزو کارکوونکو ۲۱ بریدونه هم یادې ډلې تائید کړي. په دغو پېښو کې د ۱۲ پېښو مسؤولیت طالبانو، د ۳ پېښو مسؤولیت نامعلومو وسلوالو مخالفو ډلو، د ۳ پېښو مسؤولیت په ګډه دولت ضد وسلهوالو ډلو او دولت پلوه ځواکونو، د ۱ پېښې مسؤولیت افغان ملي اردو، د ۱ پېښې مسؤولیت دولت پلوه ملیشو او د ۱ پېښې مسؤولیت نامعلومو اشخاصو په غاړه اخیستی دی. د هېواد په کچې دې کاري ډلې پر روغتونونو او روغتیايي کارکوونکو ۲۶ بریدونه تائید کړي، چې ۱۰ د طالبانو، ۸ د نامعلومو وسلوالو مخالفو ډلو، ۴ د افغان ملي اردو، ۲ د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو، ۱ د دولت پلوه ملیشو او ۱ برید د داعش خراسان څانګې لخوا ترسره شوی دی. همدارنګه یادې ډلې د همدې ربعې په اوږدو کې بشري مرستو ته د لاسرسي د مخنیوي ۱۴ پېښې تائید کړي، چې ۷ د طالبانو، ۵ د نامعلومو وسلوالو مخالفو ډلو او ۱ پېښه د داعش خراسان څانګې لخوا رامنځته شوې دي. د بشري مرستو د لاسرسي د مخنیوي په دغو پېښو کې د ۵ بشري مرستندویه کارکوونکو تښتول، هدفي بریدونه چې له امله یې ۱۹ کارکوونکي ووژل شول او ۱۸ نور ټپیان شول، د ملکي شتمنیو ویجاړول، او د بشري مرستو پر کارکوونکو د چاودېدونکو توکو په وسیله د دوو ناکامو بریدونو هڅې شاملې دي.

۳۹.	د ماشومانو او وسله‌والو جګړو په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ۲۰۲۰ کلني راپور (A/75/873–S/2021/437) له مخې، افغان ملي پولیس د ماشومانو د استخدام او کارونې له امله د سرغړوونکو د نوملړ څخه وایستل شول، په داسې حال کې چې افغان ملي اردو د ماشومانو د وژلو او ټپي کولو له امله د سرغړوونکو په نوملړ کې شامل کړای شول. دغې هېوادنۍ کاري ډلې خپلو هڅو ته دوام ورکړی څو د افغانستان له حکومت سره د هغو اقداماتو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د افغان ملي پولیسو د پرمختګ له دوام څخه ډاډ ترلاسه شي او همدارنګه د افغان ملي اردو نوملړ ته د اضافه کولو اړوند ستونزو ته د رسېدنې لپاره لازم ګامونه پورته شي.

۴۰.	د جولای په میاشت کې، په افغانستان کې وسله‌واله جګړه هغه مهال یوې نوې، لا خونړۍ او لا ویجاړوونکې مرحلې ته داخله شوه، کله چې طالبانو د ولایتي مرکزونو د نیولو لپاره پراخ او بشپړ بریدونه پیل کړل. په ګڼ مېشتو ښاري سیمو کې سختې جګړې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې د پام وړ زیاتوالي، د شتمنیو د ویجاړېدو او د خلکو د پراخې بې‌ځایه کېدنې لامل شوې. د جولای له ۹مې، چې طالبانو پر ولایتي مرکزونو خپل فشار زیات کړ، د اګست تر ۱۲ نېټې پورې، یوازې په څلورو ښارونو— لښکرګاه، کندهار، هرات او کندز— کې لومړنیو شمېرو وښودله چې د طالبانو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه ترمنځ د جګړو له امله ۱۵۵۸ څخه زیات ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې کې لږ تر لږه ۱۹۹ کسان وژل شوي او ۱۳۳۳ نور ټپیان شوي دي، چې ماشومان هم پکې شامل دي. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو اصلي لامل بلل شوې، خو د دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شویو هوایي بریدونو هم د ملکي مرګ‌ژوبلې په زیاتوالي کې د پام وړ ونډه درلوده.

۴۱.	پر ولسوالیو د طالبانو لخوا تر ولکې ټینګولو وروسته، د طالبانو د واکمنۍ په اړه داسې راپورونه او ادعاوې ثبت شوې چې د افغان ښځو او نجونو د اساسي حقونو او آزادۍ په برخه کې شاتګ شوی دی. په ځانګړي ډول، د زده‌کړې، روغتیایي مرکزونو ته د لاسرسي، د کار حق او د تګ راتګ د آزادۍ په برخو کې محدودیتونه زیات شوي دي، ځکه داسې لارښوونې پلي شوې دي چې ښځې باید له کوره د وتلو پر مهال د کورنۍ نارینه ملګری (محرم) له ځان سره ولري او همدارنګه د لباس او حجاب سخت اصول وضع شوي دي. په بېلابېلو سیمو کې راپورونه ورکړل شوي چې طالبانو ګواښ کړی چې د دغو مقرراتو سرغړوونکو ته به سختې سزاګانې ورکړي. همدارنګه، داسې راپورونه هم شته چې ښځې د دې اصولو د ماتولو له امله په عامه ځایونو کې په دورو وهل شوي او ټکول شوي دي. په یوه پېښه کې د بلخ ولایت کې د اګست په ۳ نېټه یوه د ښځو د حقونو فعاله د همدې اصولو د سرغړونې له امله په ډزو وژل شوې وه.

۴۲.	د بشري حقونو مدافعین او د رسنیو کارکوونکي لا هم د بریدونو هدف ګرځي. یوناما په هلمند ولایت کې د طالبانو له خوا د یوه مدني فعال او د هغه د مېرمنې د وژلو، کابل ولایت کې د یوه مدني فعال د وژلو، کندهار ولایت کې د یوه نړیوال انځور اخیستونکي خبریال د وژلو، او کابل ولایت کې د یوې ښځینه خبریالې د وژلو پېښه چې د داعش خراسان څانګې یې مسؤولیت په غاړه اخیستې، ثبت کړې دي. سربېره پر دې، په غزني ولایت کې د نامعلومو وسله‌والو له خوا په یوه برید کې د یوه خصوصي راډیو کارکوونکی ټپي شوی و؛ په دایکندي او هرات ولایتونو کې یو خبریال، یوه ښځینه د نادولتي مؤسسې کارکوونکې او یوه ښځینه مدني فعاله د نامعلومو کسانو له خوا ګواښل شوي؛ او په ننګرهار ولایت کې یوه ښځینه خبریاله د داعش له برید څخه روغه پاتې شوې وه. په پروان ولایت کې د راډیو بَرین خپرونې وروسته له هغې ودرېدې چې پر یوه ښځینه کارکوونکې یې د نامعلومو کسانو لخوا برید وشو.

۴۳.	د راپور ورکولو په موده کې داسې راپورونه خپاره شول چې د رسنیو ځینو بنسټونو په لنډمهاله توګه د بغلان، زابل، جوزجان، کندز، نورستان او پکتیا ولایتونو په ځینو ولسوالیو کې خپل فعالیتونه وروسته له هغې ودرول چې، یادې سیمې د

طالبانو لخوا ونیول شوې. د افغانستان د ملي امنیت ریاست له خوا د جولای په ۲۶ نېټه په کندهار کې څلور خبریالان هغه مهال ونیول شول کله چې هغوی په سپین بولدک کې د راپور جوړونې له یوه سفر څخه بېرته د راستنېدو په حال کې وو.

### څلورم:  د پراختیایي مرستو همغږي

۴۴.	حکومت د جولای په ۲۰ نېټه د افغانستان د مشارکت چوکاټ د پلي کېدو په اړه خپل د کال منځنی راپور خپور کړ او د جولای په ۲۷ نېټه یې یو تکمیلي ځانارزونه هم وړاندې کړه. ، د افغانستان حکومت او یوناما د جولای په ۲۸ نېټه د ګډو مشرانو په توګه له نړیوالو شریکانو سره د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ ځانګړې غونډه راوبلله، چې په کې ګډونوالو د دغه چوکاټ او د افغانستان د ملي سولې او پراختیا دویمې اداني پر ژمنو او پرمختګونو بیاکتنه وکړه. تمویلوونکو د ۲۰۲۰ کال د افغانستان کنفرانس کې خپلې ژمنې یو ځل بیا تازه کړې او ټینګار یې وکړ چې دیموکراسي، د بنسټیزو خدمتونو وړاندې کول، د قانون حاکمیت او د بشري حقونو پیاوړتیا به د دوی د ملاتړ اساسي شرط وي. یوناما د اګسټ په ۴ نېټه د اداري فساد پر وړاندې مبارزې په برخه کې خپل پنځم راپور خپور کړ، چې په کې په افغانستان کې د اداري او قانوني اصلاحاتو له لارې د شوو پرمختګونو ستاینه شوې او همدارنګه د روڼتیا، شفافیت او حساب ورکونې د زیاتوالي لپاره د ځانګړو اقداماتو سپارښتنه شوې ده.

۴۵.	یوناما د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون له مخې د نړیوالو جرمونو په اړه د حساب ورکونې د پیاوړتیا په موخه، د لویې څارنوالۍ د نړیوالو جرمونو ریاست د څېړونکو او څارنوالانو د ظرفیت لوړولو او مشورې ورکولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړی دی. دا ملاتړ د ځانګړو روزنیزو او لارښودیزو فعالیتونو له لارې ترسره شو، چې د می له ۲۴ څخه د جون تر ۱۱ او بیا د جون له ۲۰ څخه تر ۲۹ پورې دوام درلود.

۴۶.	حکومت د وړتیا پر بنسټ د ملکي خدمتونو د رامنځته کولو او په رهبرۍ بستونو کې د ښځو د لا زیاتې ګمارنې لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړی. د هغو تعلیمي بنسټونو له بیا پرانیستل کېدو وروسته چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشتې راهیسې د کرونا ویروس له امله تړل شوي وو، ملګرو ملتونو د پوهنې وزارت سره د باکیفیته معلوماتو د راټولولو، څارنې او ارزونې د میکانېزمونو د جوړولو، او همدارنګه د تعلیمي تمویل او پانګونې لپاره د مناسبو پلټفورمونو د رامنځته کولو په برخه کې مرسته وکړه.

۴۷.	د ملګرو ملتونو د ښځو چارو ادارې (UN-Women) د جون پر لومړۍ نېټه د استرالیا، جرمني او اروپایي ټولنې په ملاتړ، د ښځو چارو وزارت تر مشرۍ لاندې په ټول هېواد کې د ښځو د خوندي پناه‌ځایونو د ملاتړ لپاره د څو تمویلوونکو او څو اړخیزو شریکانو اماني وجهي صندوق جوړ کړ. دغه صندوق به هغو ښځو سره چې د تاوتریخوالي قرباني شوي، د اړینو خدمتونو او ملاتړ د برابرولو له لارې مرسته وکړي.

۴۸.	د جولای پر ۷ نېټه د هېواد ګډې ارزونې سند (Common Country Assessment) او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پایدارې پراختیا د همکارۍ چوکاټ (۲۰۲۲–۲۰۲۵)، چې د ملګرو ملتونو د ادارو پروګرامونه د افغانستان د سولې او پراختیا له دویم ملي چوکاټ او د ۲۰۳۰ کال د پایدارې پراختیا له اجنډا سره همغږي کوي، د نظرونو او وړاندیزونو د ترلاسه کولو لپاره د ولسمشر د لومړي مرستیال دفتر ته واستول شول.

### پنځم: بشري مرستې

۴۹.	د وچکالۍ، د جګړو د شدت له امله د بې‌ځایه کېدو د نویو څپو، او د کرونا وبا د درېیمې څپې په ګډون یو له بل سره تړلو ننګونو په ۲۰۲۱ کال کې د افغانستان نږدې نیمايي وګړي بشري مرستو ته اړ کړي دي. د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، د بشري مرستو همکارو شریکانو د ۱۵،۷ میلیونه په نښه شویو کسانو له ډلې څخه له ۷،۸ میلیونو څخه زیاتو کسانو ته د هېواد له ۴۰۱ ولسوالیو څخه په ۳۹۴ ولسوالیو کې د ژوند ژغورنې مرستې رسولې دي.

۵۰.	د اګسټ تر ۲۲ نېټې پورې په افغانستان کې کرونا وبا د ۱۵۲۵۱۱ مثبتو پېښو پخلی شوی دی، په داسې حال کې چې د دې وبا له پیل راهیسې شاوخوا ۷۰۷۰ کسان مړه شوي دي. خو ښايي دغه شمېرې واقعي شمېرو ته په پام سره ټیټې وي، ځکه چې په ټول هېواد کې یوازې ۷۴۷۷۴۵ ټسټونه ترسره شوي وو. د وبا د درېیمې او لا ډېرې ساري څپې له خپرېدو سره، د مثبتو ټسټونو کچه په چټکۍ سره لوړه شوه او د جون او جولای په میاشتو کې یې اوسط نږدې ۵۲ سلنې ته ورسېد. د ټسټونو ترسره کولو ظرفیت له ۲۶ لابراتوارونو څخه ۳۱ لابراتوارونو ته لوړ شو، چې په ورځ کې یې د ۸۷۰۰ ټسټونو د ترسره کولو وړتیا لرله، او پلان دا و چې د اګسټ تر پایه ۹ نور لابراتوارونه هم جوړ شي. خو د درملنې ظرفیت لا هم محدود دی، او د بسترونو او د قرنطین د ځانګړو ځانګو د کمښت راپورونه ورکړل شوي دي. ملګرو ملتونو د جون له ۱۵ راهیسې ۱۰ د اکسیجن تولید فابریکې او د جولای په میاشت کې لږ تر لږه ۸۳ د اکسیجن غلیظ کوونکي (Oxygen Concentrators) برابر کړي وو. د اګست تر ۲۲ پورې، له ۱،۶ میلیونو څخه زیاتو کسانو لږ تر لږه د واکسین یو دوز ترلاسه کړی و، او نږدې ۹۰۰۰۰۰ کسان په بشپړ ډول واکسین شوي وو. د ښځو او زیان‌منونکو ډلو ترمنځ د واکسین کولو کچه په نا انډوله توګه په ټیټه کچه کې وه.

۵۱.	د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د اګسټ تر ۹ پورې، د جګړو د شدت له زیاتېدو سره د بې ځایه شویو کسانو ټول شمېر له ۵۵۰۰۰۰ څخه واوښت. دا په داسې حال کې ده چې له ۲۰۱۲ کال راهیسې تر دې دمه شاوخوا ۵ میلیونه کسان بې‌ځایه شوي دي. د بشري مرستو شریکانو د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جولای تر ۳۱ پورې له ۴۲۰۰۰۰ څخه زیاتو کسانو ته د سرپناه او د کورنیو اړتیاوو اړوند توکي وویشل. جګړو پر روغتیايي سیستم لا زیات فشار راوړ چې له وړاندې هم له ګڼو ستونزو سره مخ و. د تېر کال په پرتله د فزیکي صدمو او ټپیانو شمېر لږ تر لږه یو پر درېیمه برخه زیات شوی دی. په ځانګړي ډول، د چاودنو له امله رامنځته شوي ټپونه د ټولو مرګ‌ژوبلو ۴۲ سلنه او د ډزو له امله رامنځته شوي ټپونه ۲۵ سلنه جوړوي. ماشومان د چاودنو له امله د ټپي شویو کسانو له پنځمې برخې څخه زیاته برخه جوړوي او یوازې د جون په میاشت کې نږدې ۲۸۰۰۰ کسانو د بیړنیو ټپونو درملنه ترلاسه کړې ده. د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ نیمايي کې پر روغتیايي مرکزونو بریدونو له ۲۰۰۰۰۰ څخه ډېر خلک له روغتیايي خدمتونو بې‌برخې کړل، خو سره له دې، د روغتیايي خدمتونو شریکانو وکولای شول چې د جنورۍ او جون ترمنځموده کې له ۳،۸ میلیونو څخه زیاتو کسانو ته طبي مرستې ورسوي.

۵۲.	د بشري مرستو شریکانو د جنورۍ او جون ترمنځ موده کې د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان سره د سرحدي تګ‌راتګ په نقطو کې شاوخوا ۹۳۰۰۰ کسانو ته د جنسي او زیږون روغتیا اړوند خدمتونه او بېړنۍ مرستې برابرې کړې. همدارنګه، د همدې مودې په ترڅ کې د بېړنیو زیږون روغتیايي کڅوړو د وېش له لارې ۱۷۰۰۰ ښځو او نجونو سره مرستې وشوې.

۵۳.	په ۲۰۲۱ کال کې، د جولای تر ۲۹ نېټې پورې، په افغانستان کې د لومړي ډول وحشي پولیو ویروس ( Wild Poliovirus Type 1) یوه پېښه او د دویم ډول واکسین څخه رامنځته کېدونکي او خپرېدونکي پولیو ویروس ۴۲ پېښې ثبت شوې دي. د دغو ټولو پېښو راپورونه له هغو سیمو څخه ورکړل شوي وو چېرې چې د کور په کور د پولیو واکسین کمپاینونه لا هم منع دي. د عامې روغتیا وزارت او د ملګرو ملتونو همکارو ادارو په ۲۰۲۱ کال کې د پولیو ضد واکسین درې سراسري کمپاینونه ترسره کړل، چې په هر کمپاین کې یې د ۹،۹ میلیونه ماشومانو ته واکسین کول هدف ټاکلی و. په ختیځو سیمو کې د

وروستیو بریدونو له امله د شاوخوا ۴۳۰۰۰۰ ماشومانو لپاره د پولیو واکسین ته لاسرسی په موقتي ډول له خنډ سره مخ شو. په هغو سیمو کې چې لاسرسی ورته ممکن نه و، د جومات په جومات د واکسین تطبیقولو پلانونه، او همدارنګه د واکسینو نور بدیل تدابیر، د نوي حکومت تر رامنځته کېدو پورې ځنډول شوي دي.

۵۴. د هېواد یوه پر دریمه برخه د هوا د شرایطو له مخې له وچکالۍ سره مخ ده، او نږدې یو پر څلورمه برخه یې د کرنیزې وچکالۍ له امله اغېزمنه شوې ده. همدارنګه، د هېواد یو پر دریمه برخه د غذایي مصؤونیت له پلوه د "بحران" او "بیړني حالت "په کچه کې ښودل شوې ده، او د وچکالۍ له امله اغېزمنې شوې سیمې تر ډېره له هغو سیمو سره برابرې دي چې له شدید غذایي عدم مصؤونیت سره مخې دي. اټکل کېده چې په ۲۰۲۱ کال کې به له پنځو کلونو څخه کم عمره نیمایي ماشومان له حادې خوارځواکۍ سره مخ شي، چې دا د کال په پیل کې د شویو اټکلونو په پرتله له ۱۶ سلنې څخه ډېر زیاتوالی ښيي. په ټولیز ډول، ۱۴ ولایتونه د اوبو له شدید کمښت سره مخ دي. د جنورۍ له میاشتې راهیسې، د بشري مرستو همکارو ادارو او شریکانو نږدې ۵،۵ میلیونه کسانو ته له ۸۴۰۰۰ مټریک ټنو څخه ډېر خوراکي توکي او ۲۷ میلیونه امریکایي ډالره نغدي مرستې برابرې کړي دي. د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر پایه پورې، اټکل کېږي چې د پنځو کلونو څخه کم عمره ۱۳۲۰۰۰ ماشومانو ته د تغذیې اړوند مرستې رسېدلي وي. همدارنګه، د بشري مرستو رسوونکو همکارو ادارو د اپرېل او جون ترمنځ موده کې ۱،۱ میلیونه کسانو ته د معیشت د خوندیتوب په موخه بشري مرستې برابرې کړي دي. همکارو ادارو د جنورۍ له میاشتې راهیسې، ۲،۱ میلیونه کسانو ته د څښاک پاکې اوبه، د نظافت او حفظ‌الصحې مرستې او امکانات برابر کړي دي.

۵۵. په لوړه کچه بې اسناده افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي، چې د جنوري او اګست د ۵ نېټې ترمنځ موده کې نږدې ۷۰۹۰۰۰ کسان خپل هېواد ته راغلي دي. له ایران څخه د جنوري څخه د جولای تر پای پورې له ۳۶۹۰۰۰ څخه زیات بې اسناده افغان کډوال راشړل شوي دي. د راستنېدونکو کډوالو شمېر کم دی او یوازې ۱۲۱۰ تنه یې افغانستان ته راستانه شوي دي. د مې میاشتې د ۲۰ او اګست لومړۍ نېټې ترمنځ موده کې له ایران څخه ۲۴۵۶۹۰ بې اسناده افغان مهاجرین او ۱۵۲ راستنېدونکي کډوال او له پاکستان څخه ۲۱۴۷ بې اسناده افغان مهاجرین او ۱۵۲ راستنېدونکي کډوال او له نورو هېوادونو څخه ۱۷ مهاجرین افغانستان ته راستانه شوي دي.

۵۶. د مې او جون میاشتو ترمنځ، د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ خدمتونو (Mine Action Service) او همکارو ادارو له خوا له ۱،۵۸ کیلومتره مربع څخه زیاته هغه ځمکه له ماینونو پاکه شوې چې د لوړ خطر لرونکو چاودېدونکو توکو له ککړتیا سره مخ وه. د دې بهیر په ترڅ کې له ۲۶۰ څخه زیات چاودېدونکي مهمات او ناچاوده توکي په خوندي ډول راټول او له منځه وړل شوي، چې له امله یې ۷۰ ټولنې له دې خدمتونو برخمنې شوي دي. سربېره پر دې، ۱۴۸۲۷۰ کسانو ته د چاودېدونکو مهماتو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي او خطر کمولو زده‌کړې ورکړل شوي دي.

۵۷. د بشري مرستو په فعالیتونو کې لاسوهنې زیاتې شوي، او د مې د ۲۰ او د اګست د لومړۍ نېټې ترمنځ موده کې بشري مرستو ته د لاسرسي پر وړاندې ۴۳۵ خنډونه ثبت شوي، چې له دې سره د جنورۍ له میاشتې راهیسې د ثبت شوو محدودیتونو ټول شمېر ۱۲۱۳ ته رسېږي. دا شمېره لا دمخه د ۲۰۲۰ کال د ټولټال ثبت شوو ۱۰۹۵ محدودیتونو په پرتله زیاته ده. په ۲۰۲۱ کال کې د بشري مرستو پر کارکوونکو هم بریدونو دوام درلود؛ ۳۰ مرستندویه کارکوونکي وژل شوي، ۷۷ نور ټپیان شوي، ۵۴ تښتول شوي او ۴۲ تنه نیول شوي یا توقیف شوي دي. همدارنګه، ځینو ښځینه مرستندویو او روغتیایي کارکوونکو راپور ورکړی چې که له نارینه محرم پرته چېرته نشي تلای او پر تګ راتګ یې محدودیتونه لګول شوي دي.

۵۸. د بشري مرستو د رسولو پلان د اګست تر ۲۲ نېټې پورې یوازې ۳۸ سلنه تمویل شوی او شاوخوا ۷۹۰ میلیونه امریکایي ډالره کمښت لري. په افغانستان کې بشري ټولنې، چې شاوخوا ۱۵۶ د ملګرو ملتونو ادارې او همکار شریکان جوړوي، د

اړتیاوو او تشو د ارزونې یو بهیر پیل کړی، څو د بشري مرستو رسولو په برخه کې موجودې نیمګړتیاوې وپېژني او تر ټولو مهم لومړیتوبونه په ګوته کړي.

**شپږم: نشه ای توکو سره مبارزه**

۵۹. په افغانستان کې د قانون پلي کوونکو ادارو د مې د ۹ او د جولای د ۱۳ نېټې ترمنځ، د نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزې په برخه کې ټولټال ۴۵۴ عملیات ترسره کړي دي. د دغو عملیاتو په ترڅ کې ۱۱۵ کیلوګرامه هیروئین، ۳۴۷ کیلوګرامه تریاک، ۱۲۵۳ کیلوګرامه چرس او بنګ، ۲۰۸۸ کیلوګرامه مېتافیتامین، ۶۸۱۷ کیلوګرامه بېلابېل کیمیاوي متشکله مواد او ۸۹۵۲ د مېتایلین ډای‌اوکسي مېتافیتامین (MDMA) ګولۍ ضبط شوي دي. د دغو نیول شوو او ضبط شوو توکو په پایله کې ۵۳۸ شکمن کسان نیول شوي او ۸۶ نقلیه وسایط او ۱۰۸ وسلې هم ضبط شوې دي.

۶۰. د حامد کرزي نړیوال هوايي ډګر، بلخ نړیوال هوايي ډګر، کندهار نړیوال هوايي ډګر او هرات نړیوال هوايي ډګر د هوايي ډګرونو د مخنیوي ځانګړې قطعې(Airport Interdiction Unit) ۴۴ عملیات ترسره کړي، چې په پایله کې یې ۶۸ شکمن کسان نیول شوي او ۶۰ کیلوګرامه هیروئین او ۱ کیلوګرام چرس ضبط شوي دي. همدارنګه، په بېلابېلو اسعارو کې د ۵۴۰۰ امریکايي ډالرو معادل نغدې پیسې هم په دغو عملیاتو کې ضبط شوې دي.

۶۱. د ناامنۍ له امله په زیات شمېر هغو ولایتونو کې چې تر نورو ډېر کوکنار په کې کرل کېږي، د کوکنارو د کښتونو اړولو او له منځه وړلو چارې له سترو خنډونو سره مخ شوې دي.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

۶۲. په یوناما کې د جولای تر ۳۱ نېټې پورې د نړیوالو کارکوونکو لپاره د تشو بستونو کچه ۱۳ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۱۰ سلنه، د داخلي مسلکي افیسرانو لپاره ۹ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۴ سلنه وه، حال دا چې منظور شوې کچه په ترتیب سره ۶ سلنه، ۷ سلنه، ۳ سلنه او ۳ سلنه دي. د ښځینه کارکوونکو ونډه د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو رضاکارانو لپاره ۴۶ سلنه، د داخلي مسلکي افیسرانو لپاره ۱۲ سلنه او د نورو داخلي کارکوونکو لپاره ۹ سلنه وه.

۶۳. د بشري حقونو مدافعین او خبریالانو په جون او جولای میاشتو کې په زیاتو ولایتونو کې د ناامنیو له زیاتېدو وروسته، له یوناما سره خپلې اندیښنې شریکې کړې او د لنډ مهال لپاره خوندي ځایونو ته د هغوی د لېږدولو غوښتنه یې وکړه. یوناما د بشري حقونو د مدافعینو کمېټې او د مدني ټولنو د ایتلاف سره په همکارۍ، د جولای تر ۳۱ نېټې پورې، د ۱۵ ښځو په ګډون ۹۲ تنو سره نورو ځایونو ته د لېږدولو په برخه کې مرسته وکړه. په دغو اشخاصو کې ۳۶ تنه د بشري حقونو مدافعین، ۹ د رسنیو کارکوونکي، ۱۳ د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کارکوونکي او ۳۴ د هغوی د کورنیو غړي چې ۲۱ تنه یې د کندز، ۶ د بغلان، ۴ د لښکرګاه، ۲۲ د ګردیز، ۱۷ د غور، ۱۳ د مزار او ۹ د بامیانو اوسېدونکي وو. یوناما په اګسټ کې پر هېواد د طالبانو له پوځي کنټرول وروسته، په سیمو کې خپل حضور راکم کړی او خپل کارکوونکي یې د لنډ مهال لپاره الماټِه ته لېږدولي چې خپلې دندې به له لرې واټن څخه ترسره کوي. ملګرو ملتونو همدا راز په افغانستان کې د خپلو کارکوونکو د ملاتړ لپاره اړین تجهیزات او متخصص ټیمونه هم استولي دي.

**اتم: مشاهدې**

۶۴. نړۍ په دردوونکي زړه او ژورې اندېښنې سره په افغانستان کې روانو پېښو ته ګوري او د هغه څه په اړه چې په راتلونکي کې به رامنځته کېږي، سخته اندیښنه لري. د ګډوډۍ، بې‌نظمۍ، ناڅرګندتیا او وېرې صحنو اندېښنه لا زیاته کړې، او همدارنګه د یو نوي افغان نسل د ځوانو ښځو او نجونو، هلکانو او نارینه‌وو د هیلو، پرمختګ او خوبونو د راتلونکي په اړه ژوره وېره موجوده ده. زه له طالبانو او ټولو اړخونو څخه په کلکه غوښتنه کوم چې له خورا زیات زغم او حوصلې څخه کار واخلي، څو د خلکو ژوند خوندي شي او بشري اړتیاوې یې پوره شي. زه د تاوتریخوالي د سمدستي پای ته رسېدو غوښتنه کوم؛ د ټولو افغانانو د امنیت، خوندیتوب او حقونو ته د درناوي غوښتنه کوم؛ او همدارنګه د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو د رعایت غوښتنه کوم، د ټولو هغو نړیوالو تړونونو په ګډون چې افغانستان پکې غړیتوب لري، باید رعایت شي.

۶۵. وروستیو جنګ چګړو په سلګونو زره کسان له خپلو کورونو څخه بې‌ځایه کړي دي. کابل د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه د داخلي بې‌ځایه شوو کسانو له لوېې څپې سره مخ دی، او دا هغه کسان دي چې د ناامنۍ له امله یا د جګړو پر مهال له خپلو سیمو تښتېدلي دي. زه د جګړې په ټولو اړخونو غږ کوم چې د ملکي وګړو ته د درناوي او ساتنې لپاره خپل مکلفیت پرځای کړي، او ترې غوښتنه کوم چې د جګړې په سیمو او د جګړې له لیکو هاخوا بشري مرستندویه ادارو ته د ژر او بې‌خنډه لاسرسي زمینه برابره کړي، څو اړمنو کسانو ته مرستې ورسوي. همدارنګه زه له ټولو هېوادونو په کلکه غوښتنه کوم چې د افغان کډوالو د منلو لپاره چمتو واوسي او د هغوی له هر ډول جبري اخراج څخه ډډه وکړي.

۶۶. زه د ملکي تلفاتو له لوړې کچې څخه، په ځانګړي ډول د ښځو او ماشومانو د تلفاتو په ګډون، ژوره اندېښنه لرم. زه له طالبانو او ټولو نورو اړخونو څخه غوښتنه کوم چې د نړیوال بشري حقونو قانون او د ټولو اشخاصو حقوقو او آزادیو ته درناوی وکړي او خوندي یې کړي. په ټول هېواد کې د بشري حقونو پر وړاندې د سختو محدودیتونو راپورونه ډېر د اندېښنې وړ دي، په ځانګړي ډول هغه راپورونه چې د افغانستان د ښځو او نجونو پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو د زیاتوالي په اړه دي، کومې چې تورو او تیارو ورځو ته د ستنېدو وېره لري. دا ډېره اړینه ده چې د افغان ښځو او نجونو هغه حقونه چې په سختیو ترلاسه شوي، وساتل شي. همدارنګه اړینه ده چې یو داسې ټولګډونه حکومت وي چې د ښځو او بیلابیلو قومونو په ګډون، د ټولو افغانانو استازیتوب وکړي.

۶۷. زه د اګست په ۲۶ نېټه ترسره شوی وحشتناک ترهګریز برید په کلکو ټکو غندم. دې برید د وضعیت بې‌ثباتي په څرګنده توګه روښانه کړه. افغانستان باید هېڅکله د ترهګرو ډلو لپاره بیا د یو داسې بستر او خوندي پټنځای په توګه ونه کارول شي، چې نورو هېوادونو ته ګواښ وي یا له دې خاورې په نورو هېوادونو بریدونه وشي. زه د امنیت شورا او په ټوله کې له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوم چې په یوه خوله او په ګډه اقدام وکړي او له ټولو موجودو ابزارونو څخه په ګټې اخیستنې په افغانستان کې د نړیوال ترهګریز ګواښ پر وړاندې مبارزه وکړي، او اساسي بشري حقونو ته د درناوي ډاډ رامنځته شي او د یو ټولګډونه حکومت د جوړېدو ملاتړ وشي.

۶۸. د سیمې هېوادونو په افغانستان کې د اوږدې جګړې او د هغې د احتمالي پایلو په اړه جدي اندېښنې څرګندې کړې دي، چې په کې د کډوالو بهیر، د مهاجرینو تګ راتګ، د نشه‌يي توکو او نورو غیرقانوني توکو د قاچاق زیاتېدل، ترهګري، او د اقتصادي اتصال او د دوه اړخیزې ګټورې سوداګرۍ له فرصتونو څخه محرومیت شامل دي. اړتیا ده چې سیمه په یوه خوله او د سولې او ثبات په ملاتړ کې ګډ اقدامات ترسره کړي.

۶۹. بشري بحران په افغانستان کې ۱۸ میلیونه وګړي اغېزمن کړي، چې د هېواد نیمايي نفوس جوړوي. دا ډېره مهمه ده چې د بنسټیزو خدمتونو برابرول دوام ومومي. همدارنګه دا خورا مهمه ده چې د ملکي کارکوونکو معاشونه په منظم ډول ورکړل شي، زیربناوې وساتل شي، هوايي ډګرونه بیا پرانیستل شي، او روغتیايي او تعلیمي خدمتونه همداسې دوام ومومي. بشري مرستندویه فعالان، د ښځینه کارکوونکو په ګډون، باید بې له کوم خنډه لاسرسی ولري څو له اداري او بیروکراتیکي خنډونو پرته پر وخت او ژوند ژغورونکي خدمات وړاندې کړي. د بشري مرستو رسولو پلان کم تمویل، چې یوازې ۳۸ سلنه تمویل شوی او شاوخوا ۷۹۰ میلیونه ډالره کمښت لري، بیړنۍ پاملرنې ته اړتیا لري. زه له ټولو مرسته کوونکو هېوادونو غوښتنه کوم چې یو ځل بیا د دې پلان ملاتړ وکړي، څو د ژوند ژغورنې اقدامات په سملاسي ډول پراخ او پر وخت ترسره شي، او د خلکو ستونزې راکمې شي.

۷۰. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو حضور له امنیتي وضعیت سره تړلی دی، موږ د افغانستان د خلکو ملاتړ ته ژمن یو، او هوډ لرو چې دلته پاتې شو او خدمت وکړو او د ټولو لپاره د سولې، فرصتونو او بشري حقونو په پرمختګ کې مرسته وکړو. زه له ټولو غړو هېوادونو څخه غوښتنه کوم چې د ملګرو ملتونو له هڅو ملاتړ وکړي څو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو خوندیتوب او امنیت تضمین شي. افغانانو نسلونه جګړې او کړاوونه تجربه کړي او د نړیوالې ټولنې د بشپړ ملاتړ مستحق دي. دوی باید هېڅکله یوازې پرېنښودل شي.

۷۱. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو، زما له ځانګړي استازي او د یوناما له مشرې، دیبورا لاینز او زما شخصي استازي، ژان ارنولډ څخه په خورا سختو او ننګوونکو شرایطو کې د دوی د دوامداره زحمت او خدمتونو له امله د زړه له کومې مننه کوم.

---------------